# هدي النبي ﷺ

## للحفظ والوقاية من الشرور والأمراض والأوبئة

## نبوي سنت كې د شرونو مرضونو او وباء نه ځان ساتنه او د هغې علاج

بلغة البشتو




إعداد
**د. ناجي بن إبراهيم العرفج**
وفقه الله

ترجمة
**جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة**

# نبوي سنت کې د شرونو مرضونو او

# وباء نه ځان ساتنه او د هغې علاج

إعداد: ډاکټر ناجی بن إبراهيم العرفج – حفظه الله-

پښتو ترجمه: عبد الرحيم سلطان

## ډالۍ:

زه په ډیره خوشحالۍ سره دا مختصر کتاب مسلمانانو ورونو او عامو خلکو ته پیش کوم، او د خپل رب، الله واحد، لا شریک ذات په دربار کې دعا کوم، چې هغه مونږ ټولو ته د ایمان، عافیت، او روغ صحت نعمت راپه برخه کړي، او مونږ ټول د هر قسمه شرونو او افتونو نه خصوصا ( په دي حاضر وخت کې) چې د کورونا په نوم کومه عامه وبا راغلې ده او ټوله دنیا یې د سخت مشکل سره مخامخ کړي ده ، وساتي بیشکه الله پاک په هر څه باندي قدرت لري!.

د پام وړ خبره: دا کتاب د اسانۍ دپاره چې نورو ژبوته ترجمه شي په مختصر او اسان انداز باندي لیکل شوی دی.

# سريزه

خوارلس پیړۍ د مخه، مخکې ددینه چې د نن زماني ډاکټري علاج مینځ ته راشي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته په خپلو نبوي ارشاداتو کې، ټول هغه څه بیان کړي دي کوم چې مونږ ته اطمینان راحت او دزړه سکون راکوي، او موږ د هر قسمه شر، مرض بیماري لکه دا د کورونا عالمي وبا وغیره پشان مصیبتونو نه د نجات دپاره هدایات کوي، ځکه چې ددي هدایاتو سرچشمه د قرآن کریم هغه وحي ده، کومه چې د الله پاک لخوانه د بندګانو دپاره رحمت، هدایت او شفا ده.

هغه څوک چې غواړي کامیاب شي او د هر قسمه مرضونو او تکلیفونو نه محفوظ شي، باید چې یواځې په خپل خالق، ایمان راوړي، او په اخلاص سره د هغه عبادت او بندګي وکړي، ځکه چې

هغه د هر څه مالک دی، هر خیر د هغه په لاس کې دي، او په هر څه باندي قادر دی، د مرضونو نه شفا او د تکلیفونو نه نجات یواځې د هغه په لاس کي دی، د الله پاک وینا ده: **(وإذا مَرِضتُ فَهُوَ يَشفِينِ).**
ترجمه: او چې کله زه بیمار شم هغه راته شفا راکوي.

همدغه شان د الله پاک وینادہ: **(قل لن يُصِيبَنَا إلّا مَا كَتَبَ اللّهُ لنا هو مولانا وعلى اللهِ فليتَوكّل المُؤمِنُون ).**

ترجمه: ته ورته ووایه: هیڅ کله مونږ ته نه رسیږي مګر هغه څه چې الله پاک زمونږ د پاره لیکلي وي، هغه زمونږ مولا دی، او مؤمنان دي خاص په الله پاک خپل ځانونه وسپاري.

په همدي مظبوط ایمان سره مونږ په صحیح توګه د نفع او ضرر په مالک، او د رزق، ژوند او مرګ په حقیقي مالک، الله پاک باندي توکل کولی شو.

د پام وړ خبره: دا خبره دي په یاد وي، چې د مظبوط ایمان او قوي توکل سره، د اسلام مبارک دین مونږ ته د صحت په اړه د صحي اسبابو د استعمالولو، او احتیاطي تدابیرو باندي د عمل کولو په کلکه امر کوي.

خوږ نبي کریم – صلی الله علیه وسلم ـ مونږ ته په الله پاک باندي د توکل سره د اسبابو د استعماله ولو امر کوې، نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د مرض او بیمارۍ په وخت کې د اسبابو استعمالول، او د بچاو په احتیاطي تدابیرو باندي عمل، او د مرض علاج کولو حکم کوي.

نن صبا چې د کورونا په نوم کومه وبا خوره شوي او ډاکټران چې د دي دپاره کوم احتیاطي تدابیر بیانوي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم، ددي احتیاطي تدابیرو بیان د نن نه څوارلس سوه کاله مخکې کړی دی، ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته

د ورځې پنځه کرته د فرضي لمونځونو دپاره د طهارت او پاکولي حکم کړی دی.

په اوداسه کې باید دواړه لاسونه، خوله، پوزه، او مخ ووینځل شي او ددینه علاوه نور اندامونه هم په اوداسه کې وینځل کیږي، او دا د اسلام د نظره عبادت او بندګي ده، او د ډاکټري د نظره دا کار د جراثیمو او مرض د مینځه وړلو کې مدد او مرسته کوې، همدغه شان نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ د پرنجي په وخت کې د خوله پټولو امر کړی دی، چې دا کار هم د مرض د خپریدلو مخه نیسي.

نن صبا چې ډاکټران، هسپتالونه، د صحت مکحمي وغیره کوم احتیاطي تدابیر بیانه وي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مخه ددي ټولو بیان کړی دی او په خپلو هدایاتو کې مسلمانان دیته متوجه کړي دي.

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ددي هداياتو متعلق چې د بيمارۍ وبا وغيره دخپريدلو مخه ونيول شي، يوځو ورځې مخكې د ( نيوزويک) مشهوري مجلې يومشهورامريكي ډاكټرپروفيسر، كرين كونسدين، په يوه انټرويو كې ددې پوښتنې په جواب كې وايې: ته نور څوک پيژنې چې د داسي وبايې امراضو د انتقال او خپريدلو د مخ نيولو دپاره يې هدايات كړي وي؟

Do you know who else suggested good hygiene " "and quarantining during a pandemic?

هغه په جواب كې وويل: هو هغه د اسلام پيغمبر محمد – صلى الله عليه وسلم- دی چې ديارلس سوه كاله مخكې يې ددې هدايات وركړې وو!

Muhammad, the prophet of Islam, over 1,300 " ".years ago





په دي خبره باندي امريکي ډاکټر ديوځو نبوي حديثونو حوالي هم ورکړي دي:

يو په هغه حديثونو کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا وينا ده: (کله چې تاسو په يوه علاقه باندي د وبا خبر واورئ نو هلته مه ورزئ، او چې کله تاسو په يوه علاقه کې ياست او وبا راشي نو د هغې علاقې نه بهر مه وځئ).

بل نبوي فرمان دی: ( چې مريض د روغ انسان خواته مه راولئ).

يو بل نبوي ارشاد دی: (صفايي او نظافت نيم ايمان دی).

همدغه شان پروفيسر د نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه حديث ته اشاره وکړه، کله چې بانډيچيان د نبي کريم صلى الله عليه وسلم خواته راغلل، او داسي ووېل: چې ای د الله رسوله ايا مونږ د مرض علاج وکړو؟

نبيّ کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هو د الله بندګانو د مرض علاج کوې، هیڅ یو داسي مرض الله پاک نه راولي، مګر د هغې علاج هم وي، د یو مرض نه علاوه! هغوي وویل: ای د الله رسوله هغه یو مرض کوم یو دی؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه یو مرض د بوډا والي دی، چې ددې علاج نه کیږي.

اوس یو څو هغه نبوي دعاګاني ذکرکول غواړم، چې نبي کریم صلی الله علیه و سلم د هغې ارشاد فرمایلی دی: داهغه ایماني اسباب دي چې د مؤمن بنده ایمان او باور په خپل رب باندې قوي کوي حفاظت او ساتنه يې کوي، ځکه چې زمونږ د حفاظت کولو واله، عافیت ، صحت، او شفا ورکولو واله د الله پاک ذات دی، ټول اسباب او د هغې اثرات د الله پاک په لاس کې دي.





- نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

څوک چې د شپې د سورت بقري اخري دوه اياتونه تلاوت کړې دواړه به دده لپاره کافي شي. [ امام بخاري دا حديث روايت کړی دی]

- نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

تاسو هر سهار او ماښام، دري ځله سورت اخلاص "قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ" او" الْمُعَوِّذَتَيْنِ " سورت الفلق او سورت الناس ولولئ د هر ضرر نه به ستاسو دپاره کافي شي. [امام ابو داود دا حديث روايت کړی دی ].

همدغه شان نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خپلو حديثونو کې د ايت الکرسي ډير فضائل بيان کړي دي، په حديث د ابو هريره رضي الله عنه کې نبي كريم صلى الله عليه وسلم، ابو هريره رضي الله عنه ته فرمايلي وو:

ته چې کله د شپې خپلې بسترې ته راشي، د ايت الکرسي **( الله لا إله إلا هو الحي القيوم....)** تلاوت وکړه، تر سهاره به دې شيطان خواته نشي راتللی. ( امام بخاري دا حديث روايت کړی دی).

- نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

کوم بنده چې سهار، ماښام درې ځله دا دعا **(بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ)**. ولولئ، هيڅ څيز به ورته ضرر او نقصان ونه رسوي. ( امام ترمذي دا حديث روايت کړی دی).

**ترجمه: زه د هغه الله په نوم سره شروع کوم چې د هغه د نوم سره هيڅ شی په ځمکه او اسمان کې ضرر نشي ورکولی او هغه اوريدونکی ليدونکی ذات دی.**

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دا دعاګانې سهار او ماښام نه پريښودلې: **(اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ**





احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي). ( امام ترمذي دا حديث روايت کړی دی).

ترجمه: ای الله زه په ماته په دنيا او اخرت او اهل او مال باره کی عافيت راکړی ای الله ددين او ددنيا په معاملی کي زه ستا عفو او عافيت غواړم ای الله ما باندی پرده واچوي زما د جسم حفاظت وکړی ای الله د مخی او شاه له طرفه زما حفاظت وکړی د ښی چپ او پورته طرفنه زما حفاظت وکړی او زه ستا پنا غواړم چی ماته د لاندی طرفه نقصان پيښ شي.

- نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دا دعا لوستله:

( اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ).
( امام ترمذي دا حديث روايت کړی دی).

ترجمه: ای الله زه د برگی مرض،جنون،جذام او هر قسم بيماری څخه ستا پناه غواړم.





دا بهترینه نبوي دعاء ده چې د هرقسمه جسماني، او نفساني مرضونو نه علاج په کې موجود دی.

- نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې بنده دکورنه بهر وځي اودادعاء ولولي:

**( باسمِ اللّهِ، تَوَكَّلتُ على اللّهِ، لا حَولَ ولا قُوَّةَ إلّابااللّهِ).**

**ترجمه: د الله په نوم زه د کور نه ووځم او په الله توکل کوم ( الله ته ځان سپارم) د ګناه څخه منع کول او د نیکۍ توفیق ورکول د الله په لاس کې دي.**

ورته وویلي شي تاته هدایت وکړی شو، الله پاک ستا د پاره کافي شو، ستا حفاظت وکړی شو، شیطان ترینه جدا شي، او بل شیطان ته وایي: د هغه چا سره ستا څه کار دی، چې هدایت ورته ورکړی شو، الله پاک ورته د حفاظت زمه واري ورکړه. [امام ابو داود دا حدیث روایت کړی دی.]

- نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

څوک چې د سهار مانځه نه بعد سمدست چې د هیچا سره خبري ونه کړي او دا دعاء لس ځله ولولي **(لا إلَهَ إلّاَاللهُ، وحدَهُ لا شريكَ لَهُ، لَهُ الملكُ ولَهُ الحمدُ ، يُحي ويُميتُ وَهوَ على كلِّ شيءٍ قديرٌ).**

الله پاک دده په عملنامه کې لس حسنات ( نیکیاني) ولیکئ او لس ګناهونه یې معاف کړې، لس درجات یې بلند کړې، او دغه ورځ د هر شر او شیطان نه محفوظ شي. [امام ترمذي دا حدیث روایت کړی دی ].

- عائشه رضي الله عنها فرمایي:

هره شپه چې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلې بسترې ته راغی چې ویده شي، نو خپل دواړه لاسونه به یې لپه ( یوځای) کړل او "قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ" سورت اخلاص او" الْمُعَوِّذَتَيْنِ " سورت الفلق او سورت الناس به یې ولوستل، بیا به یې په خپل ورغوي کې چف کړل، او په

خپل بدن به يې چې څومره کولی شول راښکل، د سر او مخ نه به يې شروع کړه بيا د بدن په مخامخ برخه به يې لاسونه راښکل، او دا کار به يې درې ځله تکراره و. ( امام بخاري دا حديث روايت کړی دی).

د مرض د علاج په هکله هم نبي کريم صلى الله عليه وسلم مونږ ډېر بهترين هدايات کړي دي او خپل امت يې د مرضونو علاج ته متوجه کړي دي، د صحابه کرامو هغه واقعه چې لړم چيچلی يې په سورت فاتحه دم کړی وو، نبي کريم صلى الله عليه وسلم د هغوي دا کار وستايه او هغوي يې تشويق کړل!

ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي: زه هغه شخص ته چې لړم چيچلی وو، راغلم په سورت فاتحه مي دم کړ، روغ رمټ شو چې واپس راغلم نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته مي جريان د واقعې بيان کړ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: چې تاته څنګه پته

ولګيده چې سورت فاتحه دم او علاج دی. ( امام ابو داود رحمه الله دا حديث روايت کړی دی).

د علاج د پاره يوه بله نبوي نسخه: عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه فرمايي: زه نبي کريم صلی الله عليه ته راغلم، زما په بدن کې د يو درد شکايت مې ورته وکړ!

نبي کريم صلی الله عليه وسلم راته فرمايل: ستا د بدن کومه برخه چې درد کوي په هغې باندې لاس کيږده، او درې ځله ( بسم الله) ووايه بيا، اوه ځله دا دعاء ووايه: (**أعوذ بعزة الله وقدرته من شر ما أجد وأحاذر**). عثمان رضي الله عنه فرمايي: ما چې کله دا دعاء ولوستله، روغ رمټ شوم. ( امام مسلم رحمه الله دا حديث روايت کړی دی).

- نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو شخص راغی شکايت يې وکړ! ای د الله رسوله، بيګا د شپې لړم چيچلی يم!!





نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: که د ماښام په وخت تا دا دعاء ويلې وی: ( أعوذ بكلماتِ اللهِ التَّامَّاتِ من شرِّ ما خلق لم تضُرَّك ).

**ترجمه: زه د الله په کلماتو سره د هر شري مخلوق نه پناه غواړم.**

نو هيڅ ضرر به يې نه وای درکړې. [امام مسلم دا حديث روايت کړی دی ].

- عائشه رضي الله عنها فرمايي:

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به خپل بعضي اهل باندي دم اچولو، خپل ښی لاس به يې ورباندي راښکلو او دا دعاء به يې لوستله:

**(اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أذْهِبِ البَاسَ، اشْفِهِ وأَنْتَ الشَّافِي، لا شِفَاءَ إلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا).** [امام بخاري دا حديث روايت کړی دی ].

ثابت رحمه الله ووېل: ای ابو حمزه بيمار يم ! ( ابو حمزه د انس رضي الله عنه اسم کنيه ده) انس رضي الله عنه ورته ووېل: ايا د نبي کريم

صلى الله عليه وسلم  په دم دي دم نه کړم؟! هغه ورته وويل ولي نه! انس رضي الله عنه وربانديي دا دعاء ولوستله:

**(اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أذْهِبِ البَاسَ، اشْفِهِ وأَنْتَ الشَّافِي، لا شِفَاءَ إلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا).** [امام بخاري  دا حديث روايت کړی دی ].

## خاتمه:

د يو رشتني مؤمن بايد دا عقيده او ايمان وي، چې د هر شر، مصيبت، او تکليف، مرض، وباء وغيره نه حفاظت کوونکی يواځې د الله پاک ذات دی، مونږ. تول بايد د الله پاک په ذات توکل وکړو، او هغه ته رجوع، توبه او عاجزي وکړو د هغه نه استغفار او ببښنه وغواړو.

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم تابعداري وکړو او په هغه وحي پسي روان شو کومه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د بشريت د سعادت او فلاح لپاره راوړي ده، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په هداياتو

18

عمل وکړو، تر څو د هر قسم هلاکت، تکليف مرضونو نه محفوظ پاتي شو.!

د الله پاک وينا ده: ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ﴾

او يقينا مونږ پيغمبران ليږلي وو ستانه مخکي امتونو ته، نو راونيول مونږ هغوي په سختی د مالونو او بدنونو سره ددي لپاره چې عاجزي وکړي.

د الله پاک وينا ده: ﴿وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ﴾.

ښښنه وغواړئ د خپل رب نه او رجوع وکړي هغه ته بيشکه زما رب مهربانه دی او مینه کوونکی دی.

د الله پاک وینا ده: : ﴿**وتوبوا إلى الله جميعا أيها المؤمنون لعلكم تفلحون**﴾.

او رجوع وکړې الله پاک ته ټول ای مؤمنانو ددي لپاره چې کا میاب شي.

دعاء

ای زمونږ پروردګاره مونږ او زمونږ دوستان ، مسلمانان او ټول انسانان د هر قسم مرضونو، وباء او شرونو نه په خپل امن آمان کي وساتي. آمين!

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٠١١٤٤٥٤٩٠٠ - للتواصل: ٠٥٦٩٣٧٤٩٨٦
OFFICERABWAH